

احصایه
(ستاتیستیک)
Ketabton.com
لیکونکی: برینکمن (له برینکمن ن څخه)
ژباړی: ډاکتر ماخان (میږی) شینواری
100

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احصایه




لیکونکی: پروفیسر برینکمن(له برینکمن ن ج څخه)

ژباړی: ډاکتر ماخان (میرزی) شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې هیله، چې په دې لیکنو او ژباړو به مې  زمونږ د بې وزلې او له پوهې پاتې ملت - په ما د پوهنې لپاره د لګښت - لپاره د پوهنې په لور داسې لږ ونده اخستې وي.

## د کتاب پیژند

د کتاب نوم          ستاتیستیک یا احصایه

لیکونکی:          پروفیسر برینکمن

ژباړی   :          ډاکتر ماخان میرزي شینواری

shinwari@Hotmail.de

د خپریدو لړۍ

خپرندوی :          د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

جرمني

چاپ نبټه          جولای  ۲۰۱۲

چاپځای   دانش کتابتون

د چاپ حقوق خپرندوي ټولنې لیکونکي یا ژباړي سره خوندي دي.

پښتو مو ژبه او شمیرپوهنه پرې ساده ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپرندوی ټولنې یادښت

له هغې مودې را په دې خوا، چې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د علمي، ساینسي او طبي اثرو د خپرولو لړۍ پیل کړې، تراوسه یې په دې لړ کې مهم اثار خپلو هیواولو ته وړاندې کړې دي.

موږ باور لرو، چې پښتو ژبه هغه وخت په یوه مهمه غني ژبه بدلیدلای شي، چې د پوهې په ګڼانه سمبال شي او په علمي او اکاډمیکو اثارو غني شي.

اوس چې زموږ ملي سراسري ژبه د بیلابیلوګواښونو او چلنجونو سره مخامخ ده، پر موږ ټولو ده، چې د دغه ګواښونو په وړاندې به په نره ودریږو او د علم او قلم په ژبه به ځواب ورته ووایو.

د اتحادیې له حوا د ډاکتر ماخان شینواري تراوسه زیاتو چاپ شویو اثارو په څنګ کې، د ده د پنځه وېښت شمیر پوهنې نویو ژباړو او لیکنو او دوه ټولنیزو لیکنو تر منځ، دغه اثر په همدې لړ کې ځکه د ارزښت وړ دی، چې د علمي، ساینسي اثارو د خپراوي په لړ کې د یوه مهم ګام په توګه ګڼل کیدای شي او هیله ده، چې د دې برخې مینه وال لوستوال، زده کوونکي او د پوهنتو زده کړې کڼه ترې واخستلی شي.

په درناوي

د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

۲۰۰۱۲ ز ک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژباړي مننه

د هر څه له مخه د هغو ليکونکو پروفيسرانو څخه زياته مننه، چې د ليکنو څخه يې زما د ژباړې لپاره تفاهم لري. ماته د دوي د ليکنو د ژباړې په هيڅ ډول مادي ګټه نه شته او دا کار مې يوازې په يوه د پوهني توانمندي ، مګر وروسته پاتي ژبې ويونکي ولس ته وړاندې دی، دا دې د دې پروفيسرانو له خوا په پوهنيزه اړخ کې زموږ په دې اړخ کې هم مرستې ته اړ ولس سره مرسته وي.

همدا ډول زموږ،، د افغانسان کلتورې ودې ټولنه،، جرمني، د غړو، مرستندويانو او په تيره بيا د مشر تابه څخه زياته مننه کوم، چې پرته له خپرندوې ټولنې په توګه يې د دې ليکنو زياته اقتصادي ونډه هم په غاړه اخستې.

دې لاندې زما کليوالو ملګرو او ملګرو د دې کتابونو په چاپ کې د توان سره سمه اقتصادي ونډه اخستې، چې زه ترې زياته مننه کوم:

د ښاغلي دپلوم انجنير ريحان الدين حساس، ښاغلي دپلوم انجنير محمد اکبر نور، ښاغلی ډاکتر سردار ګانه وال، ښاغلی ډاکترماڼوګل ګانه وال، ښاغلي ټولنپوه محمدعارف بيان، ښاغلي دپلوم انجنيرمحمد ايوب بيان، همداسي زما د ملګري اروابناد ډاکتر حاجي محمد سلطانزي د ځوي ښاغلي ډاکتر صالح محمد سلطانزي ، ډپلوم انجنير او دپلوم اقتصاد پوه رحمت الله فتحي او نه اخر زما د لور ډاکتر څانګې شينواري او زما د ځوي اقتصاد پوه او ټولنساپوه اباسين شينواري.

نه د ټولو په اخر کې زما له ميرمن ښاپرۍ څخه ډېره زياته مننه، چې زما د ليکنو- نه دا چې مخه يې نه ده نيولې- پوره ملاتړ کړي.

بيا هم له دوي څخه د زړه له کومې مننه کوم او لوي څښتن دې ورته اجرونه ورکړي، چې داسي مرستو ته دوام ورکړي.

په مننه : ستاسو ماخان شينواری

جرمني د بن ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۱۲ ز ک    نیولیک

نیولیک

ستاتیستیک یا ا حصشیه

د داتا راپورته کونه یا ارزښتونه او انځورونه ۱

اومه  یا خام داتاي ۲

د داتا چمتوالی او د هغو انځورونه

د نخښنو وېولونه او د نخښنو سکالاو باندې یو نظر( لیدنه) ۵۲

د خوررولو کتله ۷۳

Der Quartilsabstandکوارتیل واټن ۷۵

واریانځ او ستاندارد انحراف ۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژباړي سريزه.

ګرانو لوستونکو!

د برينکمن د ليکنو لړۍ د شميرپوهنې په څانګه کښې د ښوونځيو لپاره له درې لومړنيو کتابونو پرته نوره هم پسې غزېدلې، چې ما هغه د ګرانو لوستونکو لپاره رازباړلي.

دا احصايه يا ستاتيستک دی او د احتمالوالې شميرنه ده. دا دواړه کتابونه، چې دلته يې تاسو ته ژباړه وړاندېکيږي، هم په زياتو تمرينونو، اود دوی په اوبيونو يا حلونو سره سمبال ده.

زما په اند، داسې ليکنه په پښتو کې د لومړي ځل لپاره کيږي، چې نومه ونې به دلته هم څه ناڅه ګرانو لوستونوکو ته نابلدې وي، خو پرې پوهيدنه شونې ده. هر څه په روښانه توګه ورکړل شوي.

ګرانو هيوادوالو!

داچې ما يوځای يا نوره هم ښه په يوه وار ډېر کار را ونيوه، يعنې يوځای د ډېرو کتابونو ليکنه او ژباړه پيل کړه، نو هرومرو به ناتيکاوي زما له خوا په کې رامنځ ته شوې وي، خو دا به داسې ناتيکاوي نه وي، چې شميرپوهنيزې ستونځې رامنځ ته کړي. له دې کبله له تاسو څخه زما په ستونځو پوهيدلو له امله زياته مننه.

ستاسو ماخان ،، ميرۍ،، شينواری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د داتا راپورته کونه یا ارزښتونه او انځورونه

د داتا راپورته کوني لپاره بیلګه د کلمې روښانه کوني سره  ((Vokabel  )

په تشریحي احسایه کې داتا  راپورته کیږي، جمتو کیږي او تحلیل کیږي.

د یوه  داتا راپورته کوني لپاره بیلګه د کلمې  یالغات روښانه کوني سره  ((Vokabel

په دې ثبوت یا غوښتنه کې چې،، زموږ ځوانان تل چاغیږي او لټیږي،،  څه خوندي دي؟

د دې لپاره یې چې د دې ډول غوښتني و ازمائلی شو ټول ځوان وګړي نه شو پوښتلی ، بلکه له ټولګې څخه یې  فقط یوه برخه  یا یوه نمونه پوښتلی شو.

نمونه یې ازمایښت:  که د اوسیدونکو( نفوسو) یوه برخه و پوښتل شي، نو دا ډول  داتا پورته کونه ،، نمونه ازمایښت،، بولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي لیست: د نمونه ازمایښت نتیجې په یوه اصلي لیست کې ساتل کیږي.

د یوه اصلي لیست بیلګه:

| د سپورت ډولونه | سکونکی | | وزن په kg | د تن یا بدن لویوالي په cm | جنس | | د زده کوونکي ګڼه( نمره) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | هو | نه | | | w ښځینه | m نارینه | |
| هاندبال | | x | 52 | 160 | | X | 01 |
| فوټبال | x | | 67 | 172 | x | | 02 |
| کولف Golf | x | | 60 | 180 | x | | 03 |
| ... | ... | ... | ... | ... | ... | ... | ... |
| جودو Judo | | x | 65 | 170 | | x | xx |

( دې ته ورته اصلي لیست په خپل ټولګي کې پټ (مخفي) جوړ کړی).

## اومه یا خام داتاي:

ټولې په اصلي لیست کې خوندي داتای .

| | |
|---|---|
| اومه یا خام داتاي | ټول په اصلي لیست کی خوندي داتاوې. |
| د راپورته کوونې برکې نیونه(خوندیونه) | که د ازمایلو شیانو ( دلته زده کوونکي) تعداد یا ګڼون د بیلګې په توګه 27 زده کوونکي و پوښتل شي، نو وایو ،، د نخښو لرونکي یانخښ وړونکو تعداد یا ګڼون ( n = 27 ) د راپورته کونې بر کې نیونی ( د خوندیونې لویوالی) بلل کیږي،،. |
| نخښې | د شیانو خویونه دي.( د بیلګې په توګه، جنس، د تن لویوالی، وزن، سکرت سکوونکي، د شپورت ډولونه...) |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| د نخبنو په نخبنه کونه $x_i$ | د خویونو یوه په نخښه کونه کیدی شي د مختلفو نخښو سره وښوول شي.( د بیلګي په توګه جنسیت m یا w ) |

د نخښو او د هغو د په نخښه کونو لپاره بیلګي:

| نخښي | د نخښو په نخښه کونه $x_i$ |
|---|---|
| جنس | نارینه، ښځینه |
| تن لویوالی | 160 cm, 182 cm, 154 cm, 163 cm, ... |
| تن وزن | 52 kg, 81 kg, 71 kg , ..... |
| سګرټ سکوونکی | هو ، نه |
| د سپورت ډولونه | جودو، پینپانګ، فوتبال.... |

یادوني:

د راپورته کوني سره دي کره شي، چي د یوې نخښي مختلفي نخښوني په نمونیي ازمایښت کي خنګه په مختلفو ډولونو وښل شوي دي ، د راپورته کوني له مخه یو څو پوښتني باید روښانه شي، د بیلګي په ډول د څه شئ پسي باید و پوښتل شي؟

کوم ځوابونه ممکن دي؟

د نموني ازمایښت کوم په پر کي نیونه لري؟ یعني څومره شیان خوندي لري؟

## د داتا چمتوالی او د هغو انځورونه

د ټاکلو نخښو په نخښه کونو سره د زیاتوالي معلومول.

په یوه کرښیزه لیست کي د برابرو نخښو په نخښه کوونو د یوې ټاکلي نخښي لپاره نخښه لرونکي یوځای کوو.

د سپورت ډولونو نخښو باندې کارکونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېرو زياتو سپورت ډولونو کي دا  په تولګيو کي راټوليږي يا يوځاي کيږي. .

نمونه ازمايښت:

کرښه کرښه ليست: يا  د کرښو ليست

| د نخښو په نخښه کونه | مطلق ډېروالی | |
|---|---|---|
| فوټبال | 𝍸 IIII | 9 |
| هندبال | 𝍸 | 5 |
| وولیبال | 𝍸 II | 7 |
| ميزنتيس | IIII | 4 |
| ګولف | II | 2 |
| بی سپورته | | 0 |

په نخښه کونه د بيلګي په توګه فوټبال دلته د مطلق ډېروالي 9 باندي تنظيميږي

د يوه متي يا ستنو دياګرام سره يې انځوروونه.

د متو يا ستنو دياګرام




په پورته کي نيغ ولاړ  absolute Häufigkeit  د مطلق ډېروالي په معنا دی

د تن-کچ-پيژند نخښه يا اندکس شميرنه( BMI ):

(c) ketabton.com: The Digital Library



BMI =

د تن- کچوني – پيژندنخښنه (BMI ):

$$BMI = \frac{\text{په کيلوگرام وزن}}{(\text{دتن لويوالى په}m)^2}$$

ارزښتونه:

| | |
|---|---|
| اول: کم وزني20> x >0 | دويم: نورمال 25 ≤ x > 20 |
| دريم: زيات وزنى 30 ≤x > 25 | ځلورم: برابر غوړ 35 ≤ x > 30 |
| پنځم: ناروغ غوړ x > 35 | |

د بدن – کچ – ايندکس (BODY-Mass_index) لنډ: BMI شميرنې سره د اصلي ليست د يوه راپورته کوني ځخه ځه راوستني

| ارزښته ونه | BMI | وزن په kg | د بدن لويوالى په cm | جنس | جنس | د زده کوونکي گڼه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | w | m | |
| نورمال | 20,3 | 52 | 160 | | x | 01 |
| نورمال | 22,6 | 67 | 172 | x | | 02 |
| کم وزنى | 18,5 | 60 | 180 | x | | 03 |
| کم وزني | 19,7 | 55 | 167 | | x | 04 |
| کموزني | 19,9 | 63 | 178 | | x | 05 |
| نورمال | 20,6 | 63 | 175 | | x | 06 |
| نورمال | 20,9 | 70 | 183 | x | | 07 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 08 | | x | 188 | 78 | 22,1 | نورمال |
| 09 | | x | 181 | 84 | 25,6 | زیات وزنی |
| 10 | | x | 183 | 68 | 20,3 | نورمال |
| 11 | x | | 162 | 63 | 24,0 | نورمال |
| 12 | x | | 171 | 57 | 19,5 | کموزنی |
| 13 | | x | 177 | 67 | 21,4 | نورمال |
| 14 | x | | 165 | 58 | 21,3 | نورمال |
| 15 | | x | 174 | 70 | 23,1 | نورمال |
| 16 | | x | 179 | 73 | 22,8 | نورمال |
| 17 | x | | 175 | 55 | 18,0 | کموزنی |
| 18 | | x | 183 | 72 | 21,5 | نورمال |
| 19 | x | | 163 | 51 | 19,2 | کموزنی |
| 20 | x | | 163 | 60 | 22,6 | نورمال |
| 21 | x | | 165 | 64 | 23,5 | نورمال |
| 22 | x | | 171 | 51 | 17,4 | کموزنی |
| 23 | x | | 175 | 54 | 17,6 | کموزنی |
| 24 | | x | 176 | 68 | 22,0 | نورمال |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 25 | | x | 184 | 75 | 22,2 | نورمال |
| 26 | | x | 185 | 76 | 22,2 | نورمال |
| 27 | x | | 169 | 59 | 20,7 | نورمال |

BMI – ارزښتونه:

| | مودرات غوړ | زيات-وزني | نورمال | کم وزني | ارزښتونه |
|---|---|---|---|---|---|
| 0 | 0 | 1 | 18 | 8 | مطلق زياتوالی |

بدن- کچوني – پيژند نخښه يا ايندکس ( BMI )




کموزني نورمال زېاتوزني مودرات غوړ - غوړ

د خيرې کيڼ لور پښتو: مطلق ډېروالی
د وزن نخښو باندې کارکونه.
د اصلي ليست څخه راوېستنې يا مثالونه( ارزښت جدول)

| Nr. | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 | 11 | 12 | 13 | 14 | 15 | 16 | 17 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| kg | 52 | 67 | 60 | 55 | 63 | 63 | 70 | 78 | 84 | 68 | 63 | 57 | 67 | 58 | 70 | 73 | 55 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 18 | 19 | 20 | 21 | 22 | 23 | 24 | 25 | 26 | 27 |
| 72 | 51 | 60 | 64 | 51 | 54 | 68 | 75 | 76 | 59 |

## په ټکي دیاګرام کې انځورونه(خور دیاګرام):

د خوررورو دیاګرام

وزن




پورته ولاړ: وزن په کیلوګرام

د زده کوونکو ګڼه(نمره)

په پورته کې:  Gewicht in Kg  د ،،وزن په کیلوګرام،، په معنا دی

د  زده کوونکی- وزن ترتیب د لیدوالي له مخې په څرګنده توګه دومره نه جګیږي.

دا کبدی شي ترلی یا پسې نښتي ولوستل شي، داسې چې د ټولو زده کوونکو وزن د  40 kg او 100 kg تر منځ پروت دی.

د زیاتوالي ټاکلو لپاره دلته کرښېزلیست ازمایښت د یوه ټاکلي د نخښې یا خوي په نخښه کولو زیاتوالی  کومه موخه نه لري.

د نخښو په نخښونو په ټولګیو وېشنو اوس  مخ ته بیایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور ټولګي د ټولګی سور 10 kg سره ټاکل کيږي، په کوم کې چې د بدن وزن ترتيبيږي يا منظميږي. د نخښې وزن لپاره نخښه وړنه( نخې ارزښتونه لری، دا وړ نخښه وړونکې يا نخښه لرونکي بول) لرو اوس د ټولګي I څخه تر IV پورې.

په ټولګيووېشنه: که مختلفي د نخښو په نخښه کوني يوې نوې نخښه کوني ته را يوځای شي، نو د ا د نمونه ازماينت ارزښت په ټولګيووېشنه بولو.

انځورونه په يوه ستن يا مټې دياګرام سره ښايو بې له تشيا.

د ډېروالی جدول

| ټولګی په x1 kg | $51 \leq x < 60$ | $60 \leq x < 70$ | $70 \leq x < 80$ | $80 \leq x < 90$ |
|---|---|---|---|---|
| مطلق زياتوالی په ni | 11 | 10 | 5 | 1 |

د زياتوالي په ټولګيو وېشني ګرافيکي انځورونه.

د ټولکيو زياتوالی




د وزن ټولګي

د ټولګي سور په خوښه ( ۱۰ ميليګرامه) ټاکل شوی
اوس بايد د ټولګيو سور نيم شي.

له دې سره د ټولګيو تعداد( ګڼون) زياتيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېروالي جدول:

| تولګی په kg x1 | 51 ... 55 | 55 ... 60 | 60 ... 65 | 65 ... 70 | 70 ... 75 | 75 ... 80 | 80 ... 85 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زیاتوالی په ni | 6 | 5 | 4 | 6 | 3 | 2 | 1 |

یادونه: 51,...55 په دې معناچې $51 \leq x < 55$ ( نیم واز انتروال)

د تولګیو ډېروالی




پورته: ولاړ= مطلق ډېروالی، پروت=وزنتولګی

ګرافیکونه په برتلونه کې

که هرڅرمره د تولګیو تعداد یا ګنون کم شي، په همغه کچه د لیدوړوالی بنه کیږي.

خو د معلوماتولرنه یا خوندیونه کمیږي( دلته کېدی شي مانیپلاشن صورت ونیسي).

د تولګیو سور لپاره تولیز –باوري کره معلومات نه شته، له دې امله باید د تولګی-سور لپاره یو موخه وره د ډېروالي-جدول و ټاکل شي.

د ۵ او ۱۰ ترمنځ یو ارزښت مروج دی.

## په متو-یا ستن-دیاګرام کې د نورو انځورونو ډولونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دي لپاره چي د نارينه او ښځينه زده کوونکو د وزنونو ترمنځ د وزن توپير وکړای شو، نو ټولګي –سور ۱۰ نيلوګرامه د زياتوالي-جدول د نارينه اوښځينه پسی په ليست کي نيول کيږي.

د زياتوالي جدول: Häufigkeitstabelle

| ټولګی په kg xi | 51 ... 60 | 60 ... 70 | 70 ... 80 | 80 ... 90 |
|---|---|---|---|---|
| زياتوالی (نارينه) په ni | 1 | 6 | 5 | 1 |
| زياتوالی (ښځينه) په ni | 10 | 4 | 0 | 0 |

د متي يا ستني دياګرام د دوه وېشنو لپاره:

زياتوالي دياګرام ښځينه\نارينه

(سور يا ښی) ښځينه ، (شين يا کيڼ) نارينه




پروت = وزنټولګي، ولاړ = مطاق ډېروالی

دبل-ستنو - يا متو - دياګرام: Doppelsäulendiagramm:

زياتواليوېشنه ښځينه/نارينه

لاندي : کيڼ: نارينه ښی ښځينه

(c) ketabton.com: The Digital Library






پروت = وزنټولګي، ولاړ = مطلق ډېروالی
د ښخينه زده کوونکو بدنوزن په لومړنيو دواړو تولګيو وېشل کيږي، په داسې حالکې چې له ۱۳ څخه ۶ له ۷۰ کيلوګرام څخه زيات وزن لري.

دا $(100:13)\cdot 6 \approx 46\%$ دي

په ټولګيو وېشنو ته نورې بيلګې:

په يوه ټولګي کې چې زوه کوونکي لري هر يو زده کوونکی د رګ فرکونځ اندازه کوي.

د داتا لاس ته راوړنه په يوه اصلي ليست کې ليکل کيږي.چي دا کار او له دې سره د ټولګي ګڼون يا تعداد لپاره موخوه وردی او په اصلي ليست کې خورا کوچنی او خورا ستر يا د د غټ ارزښت په نخښه کوو .

| | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 64 | 65 | 70 | 80 | 88 | 58 | 60 | 68 | 63 | 64 | 57 | 77 | 74 | 73 | 62 | **52** |
| 72 | 84 | 63 | **90** | 68 | 59 | 58 | 71 | 80 | 82 | 81 | 69 | 53 | 65 | 69 | 71 |

د ټولګي سور4 څخه 10 ټولګي لاس ته راځي. Klassenbreite 4 ergibt 10 Klassen.

| Klasse $x_i$ | 52 ... 55 | 56 ... 59 | 60 ... 63 | 64 ... 67 | 68 ... 71 | 72 ... 75 | 76 ... 79 | 80 ... 83 | 84 ... 87 | 88 ... 91 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Häufigkeit $n_i$ | 2 | 4 | 3 | 5 | 7 | 3 | 1 | 4 | 1 | 2 |

په جدول کې: له پورته کښته: ټولګی، زياتوالی

د رګونو فرکونځ يا فرکونسي د ټولګي زياتوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library






پښتو: پرروت= فرکونځ یا فرکونسي، ولاړ= مطلق ډېروالی

د تولګي سور 8 څخه 5 تولکي لاس ته راځي

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تولګی xi | 52 ... 59 | 60 ... 67 | 68 ... 75 | 76 ... 83 | 84 ... 91 |
| زیاتوالیni | 6 | 8 | 10 | 5 | 3 |

د تولګیو ډېروالی یا زاتوالی




د رګ فرکونځ ,ولاړ: مطلق ډېروال

یادونه: لاندې داسې سرسري بیا د ځنو کلمو روښاونه ده(د ژباړې له خوا)

نخښې او نخښه ارزښتونه ( نخښه لرونکي یا نخښه وړونکي) *Merkmal* I

نخښه یو تولیز پېزندل شوی خوي دی، چې ، خلک، شیان، یا یو ذ هني اوړونوالی له نور څخه توپیروي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبني - ليکپرتله کونه – بيالوژي = ستايستيک او ايمپيري.

د نخښو ارزښت نخښه وړنه نخښه لړنه Merkmalsausprägung

نخښې کيدی شي مختلف ارزښتونه غوره کړي يا واخلي، چې دا موږ د نخښو ارزښت (لنډ: نخښه- ارزښت)نخښه وړنه يا نخښه لړنه بولو.

په پوښتنو کې د نخښو ارزښتونه يا نخښه وړنه(لړنه) د خواب امکانات دي، چې يو پوښتوني يې ورکولی شي.

| | |
|---|---|
| نخښې | ار زښتونه |
| جنس | نارينه، ښځينه |
| کورنی- يا مدنې حالت | ناواده، واده، او داسې نور |
| دښوونځي نمرې | ۱،۲،۳،۴،۵،۶،۷،۷،۹۸،۱۰ |
| د زيږندې ګڼون يا تعداد | ۱،۲،۳ |

پوښتنې:

اول – د مختلو ډولونو او د مختلفو ساحو دياګرامونه د متبوعاتو او نړۍ وال جال څخه را ټول کړئ د دياګرامونو تفاوتونه او ګډوالی را وباسئ. په دې هکله فکر وکړئ، چې کوم ترمخ چمتو والي اړين دي، چې دا دياګرامونه جوړ کړي.

يادونه( د ژباړي له خوا): راپورته کونه کيدی شي په دې معنا وي، په پوهنه کې ټوليز د داتا راټولونهد معلوماتو د کټلو لپاره.

دويم - غواړو چې د ښوونځی لار په هکله ټول پوښتنه وکړو.

فکر وکړئ، چې د کومو نخښو پوښتنه کيدای شي. هر ه نخښه په يوه نخښه وړوني تنظيم کړئ. مناسبې پوښتنې فرمولبندي کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم – لاندې نخښو ته موخه ور نخ ارزښتونو ګڼون یا شمیر ورکړئ

ال -  کورنی حالت

ب – ملتوالی

پ –  د رسختئ کلنی ورځې

ت – د کور او ښوونځي ترمنځ  واټن.

ټ -  د موټر  مارک

ځلورم – د موټرو تګ راتګ شمیرل کیږي. د دې شمیرنې  راټولولو لپاره کومې نخښې مناسب دي؟ اړونده په نخښه شوی شیان څه بلل کیږي.؟

پنځه -   د ټول پوښتنې له لارې  د ټولګي د زده کوونکو د ښوونکو څخه د رضایت یا خوښۍ پوشتنه راپورته کړئ. د ښوونکي د کومو علامو یا نخښو پوښتنه دې راپورته کولو لپاره  غوره وي؟ موخه ورې نخښه ونې کره کړئ.

شپږم- د ټاکنو شنوونکي  څو میاشتې له د ټاکنو وړاندې  زیات وخت د یکشنبې پوښتنه کوي:

کوم حزب به ته وټاکې، که په یکشنبه ټاکل وي؟

په کومه برخوېشنه به دا پوښتنه په میدین کې نشر شي؟

اوم -  د یوې ستاتیستیکي  پلټنو څخه دې پیداشي:

الف -  کار ګر د ژوند ماښام لپاره څنګه ځانونه چمتو کوي

ب -  لویان کومې بیمې سره ځانونه بیمه کوي.

د یو څو نخښه وړونکو  نومونه واخلی

اتم –  لاندې کلمې  په یوه جدول کې  د نخښو او نخښه وړونکو پسې تنظیم یا ترتیب کړئ.

ښوونکی   نه   منځنی ښوونځی   ایټالوي   د کوچنیانو تعداد

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر ۱۰۰ کیلړمتره تیلو لګښت د بدن لویوالی د زیړو ویښتو

عیسوي جګ لړ

موټروان مسلک لیسه تابیعیت

[120 cm ..... 165 cm] یو ، دوه، ... د ویښتانو رګ

دین د ښوونځي ډول د تبعوو ډېروالی په متر مربع باندې خلک

## حلونه یا اوبیونې:

(پیژند) نخښې او د نخښو ارزښتونه (نحښه لرونکي یا نخښه وړونکي) I

نتیجې

**اول –**

Individuelle یویزې (ځانګړې) پېښې

دویم –

| پیژند نخښې | د (پیژند) نخښې ارزښت |
|---|---|
| ترانسپورتی الات | ګادی، موټر، سروېس |
| ښوونځي ته واټن | 0 - 2 km; 3 - 10 km; über 10 km |
| ښوونځي ته وختنیونه | 0 - 5 Min.; 6 - 15 Min; über 15 Min. |
| د خطر امکانات | بې له بایسکل لار، ډېرتلونې لار |
| د شاه لار خوزښت یا تلنه | هو / نه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریم –

الف- کورنی حالت: ، ځانله، واده یامتآهل، کونډ یا کونډه، طلاق شوی یا – ې

ب - قومیت یا ملتوالی : جرمنی، انګرېز، فرانسوی، افغان، ترکی او نور.

پ- کلنی رسخت: له0 تر له 20کمې، 20 تر له 30 کمې ، له30 زیاتې.

ت – د کور اوښوونځي ترمنځ واټن:

0 - 50 km یا په ټولګیو: له 0 تر له 2 km کم. له2 km تر له 10 km کم. له 10 km زیات.

ټ - د موټرو مارکې: Fiat; Mercedes; BMW

څلورم –

د نقلیه الاتو ډول: کوچنی موټر ، لاری، ډبډبی، بس

د سپرلیو تعداد(ګڼون) : 1; 2; 3; 4; ، له 4زیات.

د نقلیه الاتو تعداد په هر ساعت کې: 0 - 50; 50 - 100 ،له 100 زیات.

پنځم-

عدالت : سکالا ( کچی) : سکالا له 1 تر3 ( ډېر عادل،عادل، بې عدله).

مسلکی وړتیا: سکالا له 1 تر 6، ډېر راوتی یا غښتلی = 1، ناکافي = 6

شوق: سکالا له 1 تر 3 ( ښه ، کافي ، ناکافي)

Engagement : سکالا له1 تر 3 ( ډیر یا لوي ، منځنی، کم)

زغم: سکالا له1 تر 3 ( ډېر زغم وړ، زغموړ، نازغموړ)

مرستې ته چمتووالی: سکالا له 1 تر 3( ډې مرستې ته چمتو، مرستې ته چمتو، مرستې ته ناچمتو)

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم –

د ټاکلو احزابو په سلو کې په برخه وېشنو یا بیلونو تعداد له مخې.

اوم-

الف د ژوند ماښام لپاره له مخه یا وړناندې چمتووالی: د ژ ند بیمه، اکچین، کورونه، د تقاوت بیمه

ب - بیمه : د ژوند بیمه، د کور پیمه، د تصادم بیمه

اتم-

| نخښه | نخښه وړونکي |
|---|---|
| د کوچنیانو ګڼون یا تعداد | یو ، دوه |
| د بدن یا تن لویوالی | [120 cm ..... 165 cm] |
| د ښوونځي ډول | منځنی ښوونځی ، لیسه |
| دین | نه عیسوي |
| د نفوذ ډېروالی | د خلکو ډیروالی په هر کیلو متر مربع کې $km^2$ |
| د بنزین سوزول په هر 100 km کې | کم، ډېر |
| تابیعیت | ایټالوی |
| دنده | موټران ، ښوونکی |
| د ویښتانو رنګ | د سره ویښتانو |

## پوښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



داتا او دیاګرام

اول – د ډېروالي جدول د لیسې د زدوه کوونکو د بدن لوالي پسې د ټولګیز وېشنه ښايي:

| د بدن لویوال | ]150 ; 160] | ]160 ; 165] | ]165 ; 170] | ]170 ; 175] |
|---|---|---|---|---|
| مطلق ډېروالی | 18 | 16 | 20 | 17 |

| د بدن لویوال | ]175 ; 180] | ]180 ; 200] |
|---|---|---|
| مطلق ډېروالی | 13 | 16 |

وېشنه ګرافیکی انځور کړئ.

الف- ټول متدیاګرامونه یا ستندیاګرامونه د متې د برابر سور سره.

ب – د س=هیستوګرام په څېر د مختلف متو سور سره.

دویم-
د ټولګي ویاند د ټاکلو لپاره لاندې غړوېشنه ( یا رایه) لاس ته راځي:

| کاندیدان | بریالی | منګل | خالد |
|---|---|---|---|
| غو یا رایه | 18 | 8 | 6 |

دریم –

د هر فامیل په سر د کوچنیان تعداد په هکله ټول پوښتنه لاندې لاس ته راوړنه ورکوي:

1 1 0 1 2 1 3 0 1 2 1 1 1 0 2 3 4 1 2 1

الف- نمونه ازمایښت له څه منځ ته ارغلی؟ کومې نخښې تر څېړنې نیول شوي؟

کوم د نخښو خویونه را منځته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب - د ډېروالي يو جدول جوړ کړئ.

پ – د وېشنې انځورونه په يوه متدياګرام او ګردئ يا دايروي دياګرام وښايئ.

څلورم -

د عمر ټولېوښتنه، چې د سګرټ سکولو سره پيل کيږي، لاندې ډېرولی ترې لاس ته راغلی:

| عمر په کلونو | له 16 کښته | له 16 تر18 | له 19 تر22 | له 22پورته |
|---|---|---|---|---|
| مطلق ډېروالی | 6 | 24 | 16 | 4 |

الف - نسبي ډېروالی و ټاکئ .

ب – متدياګرام رسم کړئ، که ځوان سکونکي په ۱۲کلنئ پيل کړی وي او خورا ډېرعمري د ۲۵ کلنئ سره پيل کړی وي.

پنځم –

په يوه اصلی ليست کې 4 نخښه ارزښتونه رامنځ ته کيږي ، د مطلق زياتوالي د پرتلې سره. نسبی ډېروالی و ټاکی.

شپږم- په يوه رابند کلي کې د موټرو د چټکتيا کنترول لاندې کچونې په کيلو متر په ساعت km/h کې ليکي :

45; 60; 58; 53; 55; 65; 70; 56; 63; 50; 75; 52; 48; 58; 64; 40; 68; 71; 79; 57

الف - يوه موخه وره ټولګي وېشنه جوړه کړئ او نسبي ډېروالی و شمېرئ.

ب - د کنترول شوو موټرو څو په سلو (% ) کې د جريمې انتظار بايد وباسي ، که د پوليس د زغم پوله 2 km/h وشميرل شي.

اوم – د رې د شيانو نسبت وټاکئ، چې په دايره(ګردئ) دياګرام کې انځورکيدلی شي او او درې شيان تناسب، د هغو لپاره چې د مټو دياګرام مناسب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتم- کوم دیا گرام د لاندي شیانو نسبت د گرافیکي انځوروني لپاره مساعد دی؟

الف – د ځوانانو لپاره د ملفون ( لاسي تلفون) میاشتنی مصارفو جګوالی.

ب – په یوه کورنی کي د اشخاصو شتون تعداد.

پ- د شمیرپوهني کار ( کورني کار) نمرې

ت - د ززځلي زوراور

ټ – د اشخاصو په سلو کي تعداد، د ښوونځی روځني پایونه د ابیتور، د منځني زده کړو او د Hauptschule منځني ښوونځي سر ته رسولو سره.

## حلونه یا اوبیوني:

## داتا او دیاګرام I

تنیجي:

اول :

الف-

| KG | 151...160 | 160..165 | 165...170 | 170...175 | 175...180 | 180...200 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| aH ($n_i$) | 18 | 16 | 20 | 17 | 13 | 16 |
| rH ($h_i = n_i/n$) | 0,18 | 0,16 | 0,20 | 0,17 | 0,13 | 0,16 |
| KB ($b_i$) | 10 | 5 | 5 | 5 | 5 | 20 |
| HD ($h_i/b_i$) | 0,018 | 0,032 | 0,04 | 0,034 | 0,026 | 0,008 |

Legende: KG = Körpergröße; aH = absolute Häufigkeit; rH = relative Häufigkeit
KB = Klassenbreite; HD = Häufigkeitsdichte; n = 100

په پورته کي: تن لویوالی = Kg ، مطلق زیاتوالی=aH ، نسبي زیاتوالی=rH، د ټولګی سور= KB، د زیاتوالی غلظت یا د زایاتوالي ټینګوالی=HD، n = 100

ب - د متو ډیاګرام د برابرو متو سور سره

(c) ketabton.com: The Digital Library






پورته پروت=د ټولګیو لویوالی، ولاړ نسبي ډېروالی

په پورته کي ولاړ یا ښي لورته : نسبي ډېروالیي
هیستوګرام د مختلفو ستنو یا متو سور سره




په پښت: پروت=د بدن لویوالی په سانتی متر، ولاړ د ډېورالي ټینګوالی

دویم -
نتیجه:

| د ټولګي ویاند ټاکنه | نسبي ډېروالی |
|---|---|
| | |

(c) ketabton.com: The Digital Library






Manfred;Beate; Kai نومونه دي

Beate $\frac{18}{32} = 56,25\%$

Manfred $\frac{8}{32} = 25\%$

Kai $\frac{6}{32} = 18,75\%$

$100\% \triangleq 360^0$ (Vollkreis)

(ټوله ګردۍ یا دایره)

دریم –

الف - نمونه ازمایینت له شلو20 کورنیو جوړ دی. علامه یا نخښه د کوچنیانو تعداد وکتل شو.

د مخښو وړونکي .4 ;3 ;2 ;1 ;0 دي.

ب- د ډېروالي جدول

پ –

د کوچنیانو تعداد په سلو کې







پروت= د کوچنیانو تعداد، ولاړ= مطلق ډېروالی

څلور -

الف- د ډېروالي جدول:

| زربنت(عمر) | $12 \le x < 16$ | $16 \le x < 19$ | $19 \le x < 22$ | $22 \le x < 26$ |
|---|---|---|---|---|
| نسبي ډېروالی | $\frac{6}{50} = 0,12$ | $\frac{24}{50} = 0,48$ | $\frac{16}{50} = 0,32$ | $\frac{4}{50} = 0,08$ |

ب -

لاندې کیڼ لور ته: نسبي ډېروالی(کثرت)

(c) ketabton.com: The Digital Library






له 22 تر 28    له 19تر 22    له 16 تر 19    له 12 تر 16

ټولګي

پنځم-

| n = 4x | x | x | x | x | مطلق دېروالسni |
|---|---|---|---|---|---|
| | $\frac{x}{4x}=\frac{1}{4}$ | $\frac{x}{4x}=\frac{1}{4}$ | $\frac{x}{4x}=\frac{1}{4}$ | $\frac{x}{4x}=\frac{1}{4}$ | ----------------- $h_i=\frac{n_i}{n}$ نسبي دېروالى |

شپږم -

الف – له 40 څخه تر 79 پورې ارزښتونه په اصلي لست کې منځ ته راځي:

په 4 ټولګيو ويشل د ټ،لګي سور 10 سره.

ټولګي شوى زياتوالي ]دول ( په کيلو متر په ساعت کې km/h )

| $\sum$ | $70 \le x < 80$ | $60 \le x < 70$ | $50 \le x < 60$ | $40 \le x < 50$ | چټکتيا |
|---|---|---|---|---|---|
| 20 | 4 | 5 | 8 | 3 | مطلق دېروالى |
| 100% | 20% | 25% | 40% | 15% | نسبي ډيروالس |

ب - له کيلو متر وروسته جريمه ده:

45 60 58 53 55 65 70 56 63 50 75 52 48 58 64 40 68 71 79 57

له 20 څخه پنځلس 15موټروانان د جريمې پانه تر لاسه کوي. دا 75% دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوم -

| | |
|---|---|
| د ګردی یا داېرې دیاګرام بیلګې | فامیلی حالت:<br>په یوه ښار کې د نومونو ویش یا برخه وېش<br>د فامیل په سر د کچنیانو تعداد |
| د متو دیاګرام بیلګې | د یوه ټولګې د ټولو زده کوونکو د بوټانو لیوالی<br>د هر زده کوونکي په سر دCD ګانو تعداد. |

اتم -

الف د ځوانان د ملفون میاشتنی د متو دیاګرام، پوړیز دیاګرام.

ب – په یوه کور کې د اوسېدونکو تعداد:

د متو دیاګرام، پوړیز دیاګرام

پ - د شمېرپوهنې د د یوه ازمایښت نمرې

دایره وي دیاګرام

ت - د زلزلې زور:

د متو دیاګرام، پوړیز دیاګرام.

ټ - د اشخاصو د په سلو کې ارزښت، چې دهغو ښوونیزه روزنه ، د ابیتور، منځنې پایله، پای ته رسوی :

دایروي دیاګرام.

## پوښتنې

## داتا او دیاګرامونه II

اول - په یوه نشریه کې لاندې دیاګرامه کتل کیږي:

یو:

د زده کوونکوتعداد په دباندنۍ ژبې درس کې



(c) ketabton.com: The Digital Library



روسي فرانسوي انګليسي سپانوي ايټالوي

دوه:

د نوو موټرونو اجازه په ...




تعدادد يا ګڼون

درې-

د مياشتي خرڅلاو




څلور-

لاندي د الماني پښتو: په ستار- ليسه کي د ورړل راوړل اله

پ ګردئ يا دايره: سبين-بايسکل، شين- موټر، سور= بل څه



(c) ketabton.com: The Digital Library



الف- د دیاگرامونو A, B او C هر یوه لپاره یو د ډېروالی جدول وکاږی د ټول انځور شوو ارزښتونو سره .
د B دیاګرام د ډېرواره ویشني لپاره یو ګردی ډوله یا دایروی دیاګرام رسم کړی.
پ – د دایروي دیاګرام کې ځلور کې د موټرو، بایسکلونو، اوښاري سورلیو موټرونو برخه وټاکی د ششونټوب تر پولې ټیک او د زیاتوالي په برخو ویشنه په مټو دیاګرام کې انځور کړی.
ت - د رحمان بابا ښوونځي ټول 80% زده کوونکي د ښوونځی لارې لپاره د تګراتګ( ورو راوړو) وسایل استعمالوي . د ورو راوړو سشیل به ځلور دیا ګرام دبرخه ویش سره انځور دی. څڅو په سلو کې زده کوونکي د وړو راوړو وسایلو کار اخلي، د موټر سره ښوونځي ته ځي؟ د زده کوونکو څو په سلو کې خبله موټر بیایي؟

## ځوابونه

داتا او دیاګرام **II**

اول –
الف - د A لپاره د زیاتوالي جدول:

| | ایټالوي | سپانوي | انګرېزي | فرانسوي | روسي | $\sum$ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| $n_i$ | 28 | 36 | 84 | 25 | 4 | n = 177 |
| $h_i$ | 16% | 20% | 48% | 14% | 2% | 100% |

د دوه یا B لپاره د زیاتوالي جدول: الماي پښتو= ځلورمه

| Quartal | I | II | III | IV | $\sum$ |
|---|---|---|---|---|---|
| $n_i$ | 5000 | 12000 | 1000 | 8000 | n = 26000 |
| $h_i$ | 0,19 | 0,46 | 0,04 | 0,31 | 1,0 |

د درې (C) لپاره د زیاتوالي جدول :

| Mon. | Jan | Feb | März | April | Mai | Juni | Juli | Aug | Sept | Okt | Nov | Dez |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $n_i$ | 200 | 350 | 150 | 400 | 350 | 600 | 100 | 150 | 300 | 500 | 400 | 300 |

پ –

(c) ketabton.com: The Digital Library



Auto: $45^0 \triangleq \frac{45}{360} \triangleq 12,5\%$

ÖNV: $210^0 \triangleq \frac{210}{360} \triangleq 58,3\%$

Fahrrad: $105^0 \triangleq \frac{105}{360} \triangleq 29,2\%$




ت – د زده کوونکو ، چې د وړوراوړو وسایلو څخه کار اخلي، د موټر سره ښوونځي ته ځي. نسبت ټولو زده کوونکو تعداد ته د زدهکوونکو تعداد، چې د موټر سره ځي کم دی او دا په حقیقت کې: له څخه ، یعني د ټول زده کوونکو د موټر سره ښوونځي ته راځي.

## پوښتنې

داتا او دیاګرامونه III

اول -

د زده کوونکو ټول پوښتنو څخه د یوه لاندنی اصلي لیست څخه د تن یا بدن د لویوالي لپاره یو ټولګیز یا صنفي ډېروالي جدول (مطلق او نسبي ډېروالی) جوړ کړئ. د نسبي ډېروالي لپاره اړونده د مېتو یا ستنو دیاګرام او یو ګردي-یا دایروي دیاګرام رسم کړئ. د زده کوونوکو نارینه وو او زده کونکو ښځینه وو برخه وټاکئ، چې له 180 cm همداسي 165 cm څخه لوي نه وي. د داتا وېشنه څنګه برېښي، که د جنس یا نارینه-ښځینه سره توپیر شي؟

| Nr. | نکي | ز ده کوو جنس | د تن لویوالی په cm | وزن په kg | نکی | سکوو | د سپورت دولونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | w | m | | | نه | هو | |
| 01 | x | | 160 | 52 | x | | فوټبال |
| 02 | | x | 172 | 67 | | x | فوټبال |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 03 | | x | 180 | 60 | | x | د میز تنیس |
| 04 | x | | 167 | 55 | x | | فوټبال |
| 05 | x | | 178 | 63 | | x | والیبال |
| 06 | x | | 175 | 63 | x | | هندبال |
| 07 | | x | 183 | 70 | x | | فوټبال |
| 08 | | x | 188 | 78 | x | | والي بال |
| 09 | | x | 181 | 84 | | x | هندبال |
| 10 | | x | 183 | 68 | x | | فوټبال |
| 11 | x | | 162 | 63 | x | | والي بال |
| 12 | x | | 171 | 57 | x | | والي بال |
| 13 | | x | 177 | 67 | x | | والي بال |
| 14 | x | | 165 | 58 | x | | د میز تنیس |
| 15 | | x | 174 | 70 | | x | والي بال |
| 16 | | x | 179 | 73 | | x | ګولف |
| 17 | x | | 175 | 55 | x | | ګولف |
| 18 | | x | 183 | 72 | x | | والي بال |
| 19 | x | | 163 | 51 | x | | د میز تنیس |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 20 | x | | 163 | 60 | x | | د میز تنیس |
| 21 | x | | 165 | 64 | x | | فوټبال |
| 22 | x | | 171 | 51 | x | | هندبال |
| 23 | x | | 175 | 54 | | x | فوټبال |
| 24 | | x | 176 | 68 | x | | فوټبال |
| 25 | | x | 184 | 75 | | x | فوټبال |
| 26 | | x | 185 | 76 | | x | هندبال |
| 27 | x | | 169 | 59 | x | | هندبال |

## ځوابونه

داتا او دیاګرامونه **III**

د ټولګیزي زیاتوالي وېشني ( Grösse= لویوالی)

| Größe | $160 \leq x < 165$ | $165 \leq x < 170$ | $170 \leq x < 175$ | |
|---|---|---|---|---|
| $n_i$ | 4 | 4 | 4 | |
| $h_i$ | 14,8% | 14,8% | 14,8% | |
| Größe | $175 \leq x < 180$ | $180 \leq x < 185$ | $185 \leq x < 190$ | $\sum$ |
| $n_i$ | 7 | 6 | 2 | 27 |
| $h_i$ | 25,9% | 22,3% | 7,4% | 100% |

:

د متو دیا ګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بدن ليوالی پسي يا په نسبت د زده کوونکو وېشنه




ولاړ په پښتو: نسبي ډېروالی

پروت: د ټولګيو ( په برخه ) وېشنه : دايروي دياګرام

د تن لويوالي له مخي د زده کوونکو ويشنه




د ښځينه او نارينه زده کوونکو برخه چي له څخه لوی نه وي.

$$h_{\le 180} = \frac{20}{27} \approx 0,74 \triangleq 74\%$$

د ښځينه او نارينه زده کوونکو برخه چي له 180 cm

همداسي له165 cm څخه لوی نه وي

$$h_{\le 165} = \frac{6}{27} \approx 0,22 \triangleq 22\%$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنس پسي ترتيب شوی د زياتوالي جدول:

نارينه الماني په پښتو= لويوالی

| Größe | $160 \le x < 165$ | $165 \le x < 170$ | $170 \le x < 175$ | |
|---|---|---|---|---|
| $n_i$ | 0 | 0 | 2 | |
| $h_i$ | 0 | 0 | 15,4% | |
| Größe | $175 \le x < 180$ | $180 \le x < 185$ | $185 \le x < 190$ | $\sum$ |
| $n_i$ | 3 | 6 | 2 | 13 |
| $h_i$ | 23,1% | 46,1% | 15,4% | 100% |

ښځينه

| Größe | $160 \le x < 165$ | $165 \le x < 170$ | $170 \le x < 175$ | |
|---|---|---|---|---|
| $n_i$ | 4 | 4 | 2 | |
| $h_i$ | 0,2857 | 0,2857 | 0,1429 | |
| Größe | $175 \le x < 180$ | $180 \le x < 185$ | $185 \le x < 190$ | $\sum$ |
| $n_i$ | 4 | 0 | 0 | 14 |
| $h_i$ | 0,2857 | 0 | 0 | 1 |

نتيجي:

د ټولګيزي زياتوالي وېشني

| Größe | $160 \le x < 165$ | $165 \le x < 170$ | $170 \le x < 175$ | |
|---|---|---|---|---|
| $n_i$ | 4 | 4 | 4 | |
| $h_i$ | 14,8% | 14,8% | 14,8% | |
| Größe | $175 \le x < 180$ | $180 \le x < 185$ | $185 \le x < 190$ | $\sum$ |
| $n_i$ | 7 | 6 | 2 | 27 |
| $h_i$ | 25,9% | 22,3% | 7,4% | 100% |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متو يا ستنو ديا ګرام

د بدن لويوالى پسي يا په نسبت د زده کوونکو وېش




د ټولګيو ( په برخه ) وېشنه

دايروي دياګرام :

د تن لويوالي له مخي د زده کوونکو ويشنه




د زد کوونکو( نارينه، ښځيته) چي له 180 cm لو نه ي:

$$h_{\le 180} = \frac{20}{27} \approx 0,74 \triangleq 74\%$$

د زد کوومکو( نارينه، ښځيته) چي له 165 cm لو نه ي:

$$h_{\le 165} = \frac{6}{27} \approx 0,22 \triangleq 22\%$$

د جنس پسي ترتيب شوى د زياتوالي جدول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نارینه:

| Größe | $160 \le x < 165$ | $165 \le x < 170$ | $170 \le x < 175$ | |
|---|---|---|---|---|
| $n_i$ | 0 | 0 | 2 | |
| $h_i$ | 0 | 0 | 15,4% | |
| Größe | $175 \le x < 180$ | $180 \le x < 185$ | $185 \le x < 190$ | $\sum$ |
| $n_i$ | 3 | 6 | 2 | 13 |
| $h_i$ | 23,1% | 46,1% | 15,4% | 100% |

ښځینه:

| Größe | $160 \le x < 165$ | $165 \le x < 170$ | $170 \le x < 175$ | |
|---|---|---|---|---|
| $n_i$ | 4 | 4 | 2 | |
| $h_i$ | 0,2857 | 0,2857 | 0,1429 | |
| Größe | $175 \le x < 180$ | $180 \le x < 185$ | $185 \le x < 190$ | $\sum$ |
| $n_i$ | 4 | 0 | 0 | 14 |
| $h_i$ | 0,2857 | 0 | 0 | 1 |

## پوښتنې

داتا او دیاګرامونه **IV**

اول –
د یوې لارۍ د ډیر ساعته خوزښت یا حرکت دواړه دیاګرامونه د یوه ساعت چټکتیا تلنې برخې ښايي




وخت په دقیق
پورته کیڼ ولاړ: کیلومتر ساعت کې چټکتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library






وخت په دقيق
پورته کيڼ ولاړ: کيلومتر ساعت کي چټکتيا

الف –
له پورته څخه کوم يو دياګرام مساعد دی، چي لاندو پوښتنو ته ځواب ورکړي؟
خورا لويه چټکتيا څومره وه او خورا کوچنی؟
کوم وخت کي دا چټکتيا اندازه شوي دي؟
په کوم وخت کي لاری د ?80 km/h چټکتيا سره به حرکت کي وه؟
ب –
په کوم وخت واټن کي چټکتيا اندازه شوی؟
کوم دياګرام چټکتيا په خورا ټيکه توګه ښايي؟
دويم –

داپورته دياګرام د يوه دولت د قرضي جګوالي دياګرام په ميليارده يور و ښايي. په اخرو شپږو کلونو کي د قرضي جګ تللی؟ د متو دياګرام وکاږی، چي کلنی قرض ډېروالی ښايي. دلته کومي ويناوي کيدی شي؟




دريم-
د دواړو دياګرامونو لپاره د يوه نقل يا يوي قصي فکر وکړی. محورونو ته ليک وکړی يا محورونه په ليکلي توګه په نخښه کړی او موخو واخدونه ( يوونونه) ورکړی.
ياګرام A

(c) ketabton.com: The Digital Library





ډياګرام B



ځواب :

داتا او ډياګرامونه **IV**

الف -

د پوښتنو د ځواب لپاره په خورا ښه توګه د خورا جګي چټکتيا کرښيز دياګرام مساعد دی:

104 km/h، له 27 دقيقو وروسوسته اندازه شوی.

40 km/h د کچوني په پيل کي 80 km/h کچ شوی يا اندازه شوی.

80 km/h د 8, 21, 36, 44 او52 دقيقو وروسته.



(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت به دقیقو
پورته کښې ولاړ: چټکتیا په km/h.
ب -
د مټو یا ستنو دیاګرام:
د 5دقیقو په واټن لومړی اندازه کونه، لومړی کچونه د2,5 دقیقو وروسته .
کرښیز دیاکرام:
د سرعتتلنه ټیک ښایي، ځکه چې په خورا کوچنیووخت- انترولونو کې کچیږي.
دویم -
پور له 29میلیار څخه و 45,6 میلیارد ته جګ شوی..
توپیر یا کمښت یې : 16,6 Mrd دا د 57,2% زیاتوالی په ګوته کوي.
په اخرو دوه کالو کې پور ډېر توانمند پورته یا جګ شو. کلنی پور زاتوالی په میلیاردو(in Mrd.).

| 1998 | 1999 | 2000 | 2001 | 2002 |
|---|---|---|---|---|
| 2,2 | 2 | 1,7 | 4,9 | 5,8 |




کښې ولاړ: په میلیارده یورو
دریم –
دیا ګرام A
بیلګه ۱ :
د یوه ښار د نفوسو وده
x - محور : کلونه، y - محور : نفوس په 100000 کې. یوې بحران یا ورانی په یوه ګام د مهاجرو څپې په خوزښت کړې . له 1945وروسته کېدی شي په غربی المان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د ځنو ښارونو ستاتیستیک داسي برېښېدی یا داسي ځرګند شوی وي.  دا مهال له شرقي المان ځخه ډېر مهاجر  غربي المان ته راغلل.

بیلګه ۲ :
د موټر  جوړولو شرکت  د خرڅلاو لاس ته راوړني وده( دا د هر څه، چي د فابریکي له خوا خرڅ شوي وي، یعني څه تولید وي، یا کسان، یا فکر او نور پلورل شوي وي):
د بنزین سپما موټر  (3  لیتره په  100 km ) یوه مساعد قیمت ته  یوه خرڅلاو ګام ته لار خلاصه کړې وي.
دیاګرام  B
بیلګه:
د  A  او  B  احزابو لپاره د ټاکونکو مساعدت:
x - محور : میاشتې،   y -محور د ټاکونکو برخه په  % کي د پوښتني سره  چې: کوم حزب به ته انتخاب کړې؟

بیلګه ۲
د سپورت ډولونه په  جنس(تارینه، ښځینه) پسي  یا له اړخه بیلول
x  - محور : (اس) سپرلی، والیبال،  هاندبال، بوټبال.
y - محور : مطلق زیاتوالی

پوښتني
داتا  او  دیاګرامونه  **V**
اول –

<table>
<tr>
<td>هستوګرام  *) د صنعت یوې برخي خورونه یا وېشنه  د میاشتني معاش په اساس  ځرګندوي.  د دې لپاره اړونده د زیاتوالي جدول وکاږی.<br>*)  که دا په کلکه ونیسو داګرافیکي انځورونه  یو دا  هستوګرام نه دی.  په هستوګرام کي د  متي جګوالي تاکل کیږي (د   ټولګي سور / نسبي دېروالی یا زیاتوال)</td>
<td>مطلق دېروالی تقسیم پر د ټولګي سور<br>
<br>معاش په یورو</td>
</tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم –
په 22 د سپتنبر د 2002 كال د المان پارلمان ته 16 احزاب كانديدېږي. د مټو دياګرام
په پارلمان كي د بريالیو احزابو د رايو يا غږونو برخه ښايي.
په لاندې كي د المان احزابو نومونه:
SPD: د سوسيا دموكراتوو ګوند
CDU/CSU: د عيسوي دوكراتوګوند| د عيسوي سوسيالو ګوند
GRÜN: د شنو ګوند
FDO: د ازاد دموكراتو ګوند

د ۲۰۰۲كال د المان د پارلمان ټاكنو كي د احزابو د غږبرخي.




احزاب
پورته كېږ لور ته ولاړ: په سلو كي ونده

په دې انتخاباتو كي ګټه او زيان
په ۲۰۰۲ كي د المان د پارلمان ټاكنه



(c) ketabton.com: The Digital Library



کيڼ ولاړ:په سلو% کې تغير
الف – د رايو زياتون يا جمعه په 100% کې غړونو برخه نه ورکوي. ولې؟
ب – د 2002 کال انتخاب شوي پارلمان 598 وکيلان لري ( له ور تړو يا ورزياتو نماينده ګانو پرته).
څومره چوکۍ په په ريښتوني هغې خورا کوچني حزب د غړبرخو يا راي برخو لاس ته بايد راوړي وي. ( په ريښتيني 47)
پ – د بوندس تاګ يا د فدرالى المان د1998 کال انتخاباتو کې د خلکو ونډه اخستنه وشميرى.
ت - د CDU/CSU او شنو جګوالى يا زياتوالى پرتله کړى. وينا ته خپل وقف وښايى: FDP په څرګند ډول نسبت CDU ته زياته شوې يا وده کړې.

دريم – د پروجکت وړانديز :
يوه د اعلاناتو تخته جوړه کړى دعنوان سره : په مسلکي کالج کې د زده کوونکو اتحاديه.
يا : د هستوګنښار هستوګني
يا : د هستوګنښار د رسختى د وخت لپاره وړانديز.
د دې نتيجې ګرافيکي چمتو کړى او دا ښوونځى ته ور معرفي کړى يا ور وپيژنى.

## ځوابونه

داتا او دياګرامونه V
**اول –**

| V | 300..500 | 500..800 | 800..1200 | 1200..1800 | 1800..2600 | 2600..4000 |
|---|---|---|---|---|---|---|
| KB | 200 | 300 | 400 | 600 | 800 | 1400 |
| SH | 0,1 | 0,15 | 0,2 | 0,1 | 0,04 | 0,02 |
| aH | 0,1·200 = 20 | 0,15·300 = 45 | 0,2·400 = 80 | 0,1·600 = 60 | 0,04·800 = 32 | 0,02·1400 = 28 |

Legende: V = Verdienst in €; KB = Klassenbreite; SH = Säulenhöhe; aH = absolute Häufigkeit

په پورته کې: ، ، مطلق زياتوالى = aH، د متو جګوالى= SH ، ټولګي سور = KB، په يورو معاش = V ،
دويم – الف – کوچنى احزاب د 5%څخه کم له پارلمان پاتي کيږي، د په سلو93% برخه کي د جمعي په خير پاتي کيږي
ب –له 598په 7,4% کې 44 دى، FDP بايد 44 چوکۍ کټلې وي، مګر دا چې د چوکۍ ويش لپاره فقط 93% ورکړ شوې رايې ( غړونه) باور لري نو تعداد 47 يې

$93\% \triangleq 598$

ټيک دى، ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوکۍ دي له دې لاس ته راځي $7,4\% \triangleq \frac{598}{93} \cdot 7,4 \approx 47$ ( راګرد شوي)

پ – په 1998کې د رايو ونډه

SPD: 40,9% | CDU/CSU: 35,1% | Grüne: 6,7% | FDP: 6,2%

ت- CDU : جګوالی: $\frac{3,4}{38,5} \triangleq 8,8\%$ ډېرې رايې

د سن: جګوالی : $\frac{1,9}{8,6} \triangleq 22,1\%$ r ډېرې رايې

FDP : جګوالی : $\frac{1,2}{7,4} \triangleq 16,2\%$ ډېرې رايې

د اوسنيو رايو تعداد په بنسټ شنو نسبت CDU/CSU ته زياتې رايې ګټلې. FDP نسبت CDU/CSU ته په سلو کې زياتې رايې ګټلې ، مګر نه په مطلقه رايو تعداد.

د ريم – ممکنه کرکتريستيکا يا نخبې د زده کونکو ( پارلمان ) موضوع په هکله: جنس، عمر، دين، هستونګنځای، ښوونځي ته لار، د ټولګي زور، ورته تلونکی ښوونځی، د زده کوونکو د تعداد وده.

پوښتنې

داتا او دياګرامونهVI

اول - 4 دياګرام په سويس کې د طب زده کړو تعداد ودې تول په برابر ډېروالي جدول ارزښتونو باندې ولاړ دي.

يو - په سويس کې د طب زده کړې



(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه -




درې-




څلور -

د طب درس د جزب زور له لاسه ورکوي




الف – وهڅيرئ چې د دياګرامونو څخه د 1994 ,1988 او 1997 کلونو لپاره د زده کړو تعداد ولولئ. له 1988 څخه تر1997 پورې په سلو کې څګوالی څومره دی؟
ب – ځنې دياګرامونه د اخرنيو کالونو لپاره جګوالی ښايي، نور يې د زده کړو په څټ يا شاته تګ. دا تشريح کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پ – په A او B دیاګرامونو کې یو فکر پیداکیږي، چې د زده کړو تعداد به مختلف منځ ته راځي. دا د څه څخه اغیزمن کیږي؟ کومه انځورونه روښانه او مدلل ده یا په دلیل ولاړه ده.؟
ت- د زده کړو د کوم تعداد به کتونکی انتظار وکاږي، که هغه ته له دې څلورو یو دیاګرام مخ ته پروت وي.
ټ- د علایقو مختلفي ډلي به په هخه کې وي، د زده کړو د تعداد وده د مختلفو دیاګرامونو سره انځور کړي. بېلګې یا مثالونه یې و نومه وه .

## ځوابونه
## داتا او دیاګرامونه VI

الف – د B دیاګرام څخه لاندې د زده کوونکو تعداد لوستل کیږي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| کال | 1988 | 1994 | 1997 |
| د زده کړو تعداد | 6996 | 7427 | 7858 |
| جګوالی : | $7858 - 6996 = 862 \Rightarrow \frac{862}{6996} \approx 0,123 \triangleq 12,3\%$ | | |

ب - تر 1997 پورې د زده کړو تعداد جګیږي، پسي بېرته شاته ځي(کمیږي). د A او B دیاګرامونه فقط تر 1997 پورې داتا خوندي لري، یعنې جګیدوکی تعداد، د D دیاګرام فقط داتا له 1997 څخه خوندي لري، نو کمیدونکي عددونه. که چیر ې یوه موخه وره ( هدف منده) ټاکل شوې د لاس ته راغلو ورکړ شوو داتا ساحه په واک کې ولرو، نو ،، ناتیکي ،، افادې لاس ته راځي، چې د دیاګرام D لرلو څخه نه شي ازمایل کیدی.
پ – د y - محور باندې د کچوني اندازه ( ډېروالی) توپیر لري. دیا ګرام C ټیک او مدلل دی. له 12 کاله زیات داتا لري.
ت – دیاګرام A یا B : د زده کړو تعداد پسې جګیږي.
د C دیاګرام: د زده کړو تعداد د هغه خورا جګ ارزښت څخه او وښتی، دا له څو کالو را په دې خوا کمیږي.
د D دیاګرام: د زده جړو تعداد تل ( نه پرېکېدونکی) کمیږي.
ټ – کله چې د زده کړو تعداد کمیږي، نو اقتصاد باید د نوو زده کړو ګټلو لپاره اعلانات یا بهتره کمپاین وکړي. که د زده کړو تعداد ډیر شي، دا د زده کړو لپاره د زده کړو څخه درس لپاره پیسو اخستلو دلیل لپاره ترې ګټه اخستل کیدای شي او یا دولت ته پوهنتونونو د بنه والي او د بنه بوسونل د پیداکیدو لپاره .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د متو – يا ستنو ډياګرام، هيستوګرام او د ټولګي سور

په ډيروالي جدول کې د ټولګيو سور
يوې فابريکې د خپلو همکارانو مياشتنی معاش په ليست کې راوړ.
د ډېروالي جدول:

| معاش $x_i$ | $800 \le x < 1000$ | $1000 \le x < 1200$ | $1200 \le x \le 1400$ | $\sum$ |
|---|---|---|---|---|
| مطلق ډېروالی $n_i$ | 150 | 40 | 80 | $n = \sum_{i=1}^{3} n_i = 270$ |
| نسبي ډېروالی $h_i$ | 0,55 | 0,15 | 0,30 | $\sum_{i=1}^{3} h_i = 1$ |
| د ټولګيو سور $b_i$ | 200 | 200 | 200 | |

د متو دياګرام




کيڼ ولاړ: نسبي ډيروالی
د برابر ټولګی سور د يوه نسبي ډېروالی وېشنې انځورونه يو د متو دياګرام دی.
د متو اوږدواليي ارزښت جمعه يا زياتون (100%) 1 ورکوي.
دا د يوه سيده يو بل سره تړلي متو څخه جوړ دی، چې د سطحو لويوالی متناسب دی د نسبي ټولګي ډېروالي سره.

د ډېروالي انځورونو کې د يو بل سره مختلف ټولګي سور

يوې فابريکوال د خپلو همکارانو د مياشتني معاش ليست جدول جوړ کړ:

د ډېروالي جدول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| معاش $x_i$ | $800 \le x < 1000$ | $1000 \le x < 2000$ | $2000 \le x \le 3500$ | $\sum$ |
| مطلق ډېروالی $n_i$ | 150 | 150 | 300 | 600 |
| نسبي ډېروالی $h_i$ | 0,25 | 0,25 | 0,50 | 1 |
| د ټولګيو سور $b_i$ | 200 | 1000 | 1500 | |




پورته کيڼ ولاړ: نسبي ډېروالی

په دياګرام کي د مېتو برابر سور کېنل شوی، سره له دې چې د ټولګيو سور مختلف دی.

د مېتو اوږدوالي جمعه (100%) 1 ورکوي. د سطحو منځپانګو جمعه و نسبي ټولګي ډېروالي سره متناسب نه دي

په يوه ګرافيکی انځورونه کي مختلف مېتوسور

د مياشتي معاش دياګرام د مختلفو ټولګي سور لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library






معاش

پورته کيڼ لورته: د ټولګيو ډېروالی ni

د دې دياګرام د کتو سره داسې ګومان را پورته کيږي، چې د ټولګي لپاره ډېروالی 800 ... 999 کوچنی دی نسبت د ټولګي 1999 ... 1000 لپاره .

سترګې د ولاړ خلورګودي يا مستطيل سطحې ته متوجه کيږي او نه د هغه جګوالي ته.

له دې امله دا انځورونه موخه وره نه ده.
له دې امله موخه وره ده ، چې يو دياګرام وټاکو ، په کوم کې چې د مستطيل سطحه د ټولګي ډيروالی وښايي.

د دې لپاره بايد د همغه مستطيل جګوالی وشميرل شي.

هستوګرام :(د ډېروالي ټينګوالی ) $= \frac{\text{نسبي اتولګي}}{\text{دټولګي سور}} = \frac{\text{سطحه}}{\text{سور}} =$ دمستطيل جګوال

دا زمونږ د بيلګې لپاره په دې معنا دی

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| معاش xi | $800 \le x < 1000$ | $1000 \le x < 2000$ | $2000 \le x \le 3500$ | $\sum$ |
| م.ډېروالی ni | 150 | 150 | 300 | 600 |
| ن. ډېروالی hi | 0,25 | 0,25 | 0,50 | 1 |
| د ډېروالي ټولګي سورbi | 200 | 1000 | 1500 | |
| ټيګوالی يا غلظت $\rho_i$ | 0,00125 | 0,00025 | 0,000333 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library






معاش

